مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۳ / ۰۴ / ۱۷

# غزل

د یار سترګو نظر کې چې له پامه ولوېدم
یو ستوری د ماښام یمه له بامه ولوېدم
زما یاغي نظر او د سجدو ده سره لیرې
سجدې ته د یار پښو کې له ناکامه ولوېدم
د ښکلې پښتنې پېغلې غوښتنې په خوب کې
ګونګی شومه په ژبه له کلامه ولوېدم
جامونه ډک له میو او ساقي هم خرابات
خپه مې په پېرۍ یم چې له جامه ولوېدم
دا زه لیونی نه وم وطن ډک له لیونو دی
اوس اورم څونه ښه شول له دشنامه ولوېدم
مقام داسې ځایګی دی چې پایښت بقایي نشته
پاچا وم خلکو منځ کې له مقامه ولوېدم
د ۲۰۲۳ کال د اپریل ۵ مه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ